AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: محـمـد نبي ساحل
رالېږونکی: احسان الله ارينزی

۲۰۲۴/۰۴/۲۲

# مستوفي حبيب الله خان، تدبر او ډيپلوماتيکې هڅې

## وردګ د تاريخ په بهير کې سيمينار

## څوارلسمه مقاله



له بده مرغه د هېواد د تاريخ پاڼې مو د افغان انسان په وينو ډکې دي او هره پاڼه يې د انسان د وينو د تويولو داستان لري. د تاريخ باب باب مو تر انساني ارزښتونو پر وحشيانه کړنو ډېر ډک دی. دلته هغه اتل دی چې ډېرې وينې يې تويې کړې وي او ډېر انسانان يې وژلي وي. د تاريخ په اوږدو کې د افغانانو د ژوند د شرايطو د ښه کولو د لارې اتل، کله هم و نه لمانځل شو او نه هم چا وپېژاند.

د معاصر تاريخ د ورور وژنې، زوی وژنې او خپل وژنې د لړۍ پر دوام د نولسمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې د هېواد پر هسک د علم، پوهې او اصلاحاتو يو تت لمر وخوت، خو هغه هم ډېر ونه پايېده، بېرته ډوب شو او د ترسره شويو اصلاحاتو لړۍ يې هم غوڅه شوه.
د دغو اصلاحاتو نوښت امير شيرعلي خان په ۱۸۷۴ ز کال هغه وخت پيل کړ چې په هېواد کې يې د لومړي ځل لپاره د يو عصري نظام د بنسټ ډبره کېښوده. حکومت د لومړي وزير لخوا اداره کېده او لومړي وزير کابينه جوړه کړه.
ټول کسان په کابينه کې د لياقت له مخې وګمارل شول. لومړی وزير يا لوی مختار سيد نور محمدشاه خان فوشنجي و او هغه خپله کابينه په لاندې ډول له دغو پښتو القابو سره وټاکله: عصمت الله خان غلجی جبارخېل ملقب په حشمت الملک (لوی مُين د غرو) د کورنيو چارو وزير، ارسلا خان غلجی (لوی مُين د باندې) د بهرنيو چارو وزير، حسين علی خان سپه سالار (ټولی مشر) د ملي دفاع وزير، مستوفي حبيب الله خان وردګ (لوی ملک) د ماليې وزير، احمدعلی خان تيموري معيری (لوی تولونی) د عمومي خزاندار په توګه، محمدحسن خان دبيرالملک (لوی کښل) د حضور د سرمنشي په توګه و ګمارل.
د تاريخ ليکوالو په باور له عصري نظام، غوره حکومتوالی او له پرمختګ سره د امير شيرعلي خان د مينې ترڅنګ د سيدنور محمد شاه فوشنجي او مستوفي حبيب الله خان وردګ په څېر هوښيار او مدبر شخصيتونه د نومړي په اداره کې په معاصر تاريخ کې د هغه دوره روښانه کړېده.
مستوفي حبيب الله خان هوښيار، ځيرک، پاک، زړور او مدبر شخصيت و چې امير وربانديې تر بل هر چا زيات اعتماد درلود. نومړی که څه هم امير ته ډېر نږدې و، خو د هغه د يو شمېر کارونو پلوی نه و. کله چې امير خپل



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

کشر زوی شهزاده عبدالله خان ولیعهد ټاکلو، مستوفي حبيب الله خان امير د موضوع په حساسيت پوه کړ او د مشرانو زامنو په ځانګړې توګه د شهزاده یعقوب خان د مستحق کېدو يې ورته ويلي و.

که څه هم مستوفي حبيب الله خان له امير سره ډېر نږدې و، يعقوب خان يې هم ډېر درناوی کاوه. کله چې يعقوب خان د امير په ضد پاڅېد، هغه مهال هم نوموړي له يعقوب خان سره ښې اړيکې درلودې او هغه يې ډېر زيات احترام او درناوی کاوه. نه یوازې یعقوب خان بلکې د امير شيرعلي خان ټولو زامنو او کورنۍ د مستوفي حبيب الله خان ډېر درناوی کاوه او نوموړي تر اخره د دوی تر منځ په کورنيو شخړو کې ځان بې طرفه وساته او کاري لوری يې یوازې وطن او خلک و.

کله چې امير شيرعلي خان شهزاده محمد يعقوب خان زندان ته واچاوه، د هغه سکنی ورور محمد ايوب خان يې د هرات په حکومت مقرر او د مقررۍ فرمان يې د مستوفي حبيب الله خان، محمد عمرخان د سردار محمد اعظم خان د زوی او وراره عطاوالله خان په لاس د کندهار له لارې د يو ټولګي عسکرو سره ولېږه؛ خو له دې کبله چې د ده د کارونو په اړه يې پوره ډاډ نه درلود، نو شاغاسي شېردل خان او ميراخور احمدخان يې هم د ده د حال د مراقبت په غرض د هزاره جاتو له لارې هرات ته يو په بل پسې ولېږل او دا يې هم ورته ويلي وو چې شهزاده بايد د امير سره د مخالفت او سرکشۍ څخه لاس واخلي.

خو څرنګه چې شهزاده محمدايوب خان د خپل پلار نه د محمد يعقوب خان سره د بدې رويې د کولو له امله خپه شوی و، نو شاغاسي شېردل خان يې له رسيدو سره سم ونيو او بندي يې کړ او د غوراتو حاکم دين محمد خان يې چې د امير له خوا مقرر شوی و، و واژه. ميراخور چې له دغو پېښو نه خبر شو، په هزاره جاتو کې تم شو او د دغو واقعاتو څخه يې امير شېرعلي خان ته خبر ورکړ. امير شېرعلي خان سمدستي حسين علي خان سپه سالار له ډېرو عسکرو سره د کندهار له لارې هرات ته ولېږه، محمد ايوب خان چې د خپل پلار د لښکر کشۍ نه خبر شو، د وزير فتح خان لمسی محمد حسن خان يې د خپل لښکر په مشرۍ وټاکه او د فراه خواته يې ور ولېږه او پخپله له نورو ځواکونو او عسکرو سره د مالان د پله په شاوخوا کې پاتې شو. محمد حسن خان د خپلو عسکرو سره د فراه په سيمه کې له شاهي لښکرو سره مخامخ شو. د مستوفي حبيب الله خان او سپهسالار حسين علی خان ځواکونه په ګرشک کې سره يو ځای شوي وو، محمدحسن خان ماتې وخوړه او د دوی د ماتې څخه پخپله محمدايوب خان هم خپل ځواکونه کافي ونه ګڼل د ايران خوا ته وتښتېد او مشهد ته ولاړ. په فراه کې د مخامخ شويو ځواکونو تر منځ جګړه سخته ونشوه، ځکه مستوفي حبيب الله خان تر خپل وروستي بريده هڅه وکړه چې مساله له جګړې پرته اواره کړي او محمد حسن ته قناعت ورکړي چې جګړه په وينې تويي کړي. هماغه و چې د نوموړي ځواکونه له کومې درنې جګړې پرته پر شا ولاړل.

مستوفي حبيب الله خان وردګ د دې تر څنګ چې پوخ سياسي درايت درلود او په ټولو ډيپلوماتيکو نزاکتونو او مرويداتو پوه و، پراخ ولسي ملاتړ او نفوذ يې هم درلود. د نوموړي پراخ نفوذ انګريزي لوري هم درک کړی و او تل يې په خپلو مکالمو کې دغه ټکي ته اشاره کړېده. د نوموړي ولسي ملاتړ او نفوذ ښايي د هغه رښتينولي او د خلکو په منځ کې اوسېدل وي. نوموړي به د خلکو ستونزې او مشکلات ټول په خپله اورېدل او هڅه يې کوله چې حق حقدار ته ورسېږي او عدالت پلی شي. د شمس النهار جريدې يو ليکوال چې محکمه عاليه ته تللی د خپلو سترګو ليدلی حال داسې وايي: ((اين حقير بتاريخ ۲۶ شهر شعبان المعضم سال ۱۲۹۱ جهت ملاقات يک دوست بمحکمه عليجاه معلاجايګاه عظمت و جلالت انتباه مقرب بارګاه خاقانی جناب لوی ملک صاحب حضرت ميرزا حبيب الله مستوفی الممالک ادم الله تعالی علمه و لياقته رفته بوقت ملاقات دوست خود در يک ګوشه ای دربار و محکمه عاليه حاکم ممدوح نشسته عجايبات زمانه را مشاهده می کردم و بفکر ناقص خود خيال نمودم که حکام والانژاد مطبع ها را ازين باعث آزاد فرموده اند که مالکان مطابع برحال متوجه بوده معاملات حکام ما تحت و از غيره رعايانی که بالادست و يا ماتحت باشند بعضی ملاحظه و بعضی بکمال صداقت شنيده بلاکم و کاست آنحالات را درج صحفه اخبار کنند تا که حکام بالادست بموجب قواعد خود تحقيقات خفيه آن بعمل آورند.........................بحضور جناب لوی ملک صاحب بيان ميکرد و جناب لوی ملک از روی کمال واقفيت و باخبری خود تصديق آن فرموده برات های هريک را بموجب دستور خود بهر يک عطا ميفرمود و در صورت تنازع و تکرار بعضی اشخاص هر قدر تکرار و بسيار ګويی که از جانب آن بظهور ميرسيد انقدر از پيشګاه حاکم ممدوح حلم و بردباری بظهور رسيد تا بحدی که از آن رعايا عارض را از روی تصديق سندات و کيفيت رويداد فاتر باطمينان نميرساند بحال معترض دويم متوجه نميشد چنانچه بهمين قسم از ده بجه صبح تا چهار بجه شام کل عارضان را بحق خود رسانيده هر يک بکمال خشنودی و حق رسی به مرادهای خود رسيده بعد از حق رسی بدعای ازدياد عمر و دولت و اقبال اين پادشاه برداشته با کمال حق رسی مرخص شدند).

مستوفي حبيب الله خان هڅه کوله چې د کورنيو ستونزو د را پيدا کېدو مخه ونيسي. هغه پوهېده چې انګريز غوندې يو شيطان دوښمن ورته په کمين کې ناست دی او له معمولي کورنۍ ستونزې څخه به يوه ملي غميزه جوړه کړي او په هېواد کې د شته ټيکاو او نسبي پرمختګ مخه به ډپ کړي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نوموړي په کور دننه د سوله ییز ژوند او د ټیکاو د ساتلو ترڅنګ له برتانویانو سره هم د داسي اړیکو هڅه کوله چي د افغانستان وقار او خپلواکي پر ځای وي او په عین حال کي د هغوی له مرستو څخه هم ګټه واخیستلی شي.
امیر شیرعلي خان چي د انګریزانو په کړو وړ بد ګمانه شوی و او د هغوی پر وړاندي یې اعتماد له لاسه ورکړی و، یو ځل بیا یې هم د ۱۸۷۶ ز کال د ډسمبر د میاشتي په اخر کي فیصله وکړه چي د لارډلیټن د سپکاویو او تهدیدونو سره سره او بله دا چي د امیر هېڅ یو نوی وړاندیز چي د امیر یوه هیله په ښه شان ترسره شوې وي، ونه منل شوه، بیا یې هم خپل صدراعظم د یو پلاوي په مشری چي غړي یې میراخور احمدخان او میرزا باقر خان و، پېښور ته د کنفرانس لپاره ولېږل، چي د انګریزانو د ځینو غوښتنو د نه منل کېدو او همدا راز د خپلو ځینو هیلو لاملونه د وایسرا استازي ته څرګند کړي او د نوي تړون په اړه مذاکره وکړي. د پېښور کنفرانس د ۱۸۷۷ ز کال د جنوري د میاشتي په ۳۰ مه نېټه پیل شو. د دغو مذاکراتو اصلي موخه دا وه، چي انګریزانو خپل یو انګریز ټبره استازی په افغانستان کي غوښت او امیر په هېڅ ډول دا نه منله. نورمحمدشاه خان د دغي غوښتني په ځواب کي انګریزانو ته وویل چي دا غوښتنه انګریزان د مرحوم دوست محمدخان له وخت څخه کوي خو افغانان له انګریز نژاده استازي څخه وېره لري او بدګماني رامنځ ته کوي، چي دا بیا هم د افغان دولت او انګریزانو لپاره ښه ندی. که هدف د اطلاعاتو د ترلاسه کولو وي دا خو بیا ستاسي مسلمان استازی دا کار ښه کولی شي چي هغه وخت عطا محمد خان سدوزی و.
دی ناکامو مذاکراتو شل ورځي ونیولي، خو تر پایله د انګلستان د وایسرای استازي افغان لوری قانع نکړی شو. په دې وخت کي سید نورمحمد شاه خان ناروغ شو، د دې لپاره چي خبرې قطع نشي امیر فیصله وکړه چي خپل بل هوښیار وزیر مستوفي حبیب الله خان وردګ خبرو ته ولېږي. حبیب الله خان د لوګر د کتب خېلو د ملا شاد محمد خان او محمد ظاهر خان په ملګرتیا د بریتانیا له استازي سره د نوي تړون د کولو په تړاو خبرو ته د ادامه ورکولو لپاره ولاړ.


له ښي اړخه لومړی کس مستوفی حبیب‌الله وردک

دې نوي پلاوي تر هغه پخواني پلاوي د امیر لخوا لوړ صلاحیت درلود. د امیر نوی استازی سرحد ته ورسید او د خبرو لپاره یې تیاری وښود، خو د مارچ په ۳۰ مه نېټه د وایسرا یو لنډ قاطع تلګراف لوییس پیلي ته ورسید چي د جرګي د ختمېدو هدایت ورته شوی و. لوییس پیلي پرته له دې چي د افغان پلاوي احترام وکړي هغوی ته وویل چي مذاکرات پای ته رسیدلي او د ورتلو حاجت نشته. پدې وخت کي د هند د چارو وزیر سالسبوري و او وایسرا لارډلیټن و چي دواړو سخته افغان دوښمنه روحیه درلوده .

افغان صدراعظم نورمحمدشاه خان هماغلته د وریښي ناروغۍ له کبله وفات شو او د امیر په امر یې مړی کابل ته را ولېږدول شو او د شاندارو مراسمو په ترڅ کي خاورو ته ورسپارل شو. د هغه له وفات څخه وروسته مستوفي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حبيب الله خان وردګ د صدراعظم په توګه د امیر لخوا وټاکل شو. حبیب الله خان وردګ په داسې حال کې لومړی وزیر شو چې د امیر او انګریزانو ترمنځ اړیکې بیخي خړ پړ شوې و او امیر روسانو ته د نږدې کېدو هڅه کوله. د امیر دغه کار انګریز وایسرا سخت په غوسه کړی و. کابل ته د روسانو د سفیر له راتګ څخه وروسته لږ موده وروسته ولیعهد عبدالله خان وفات شو. پدې وخت کې وایسرا د ۱۸۷۸ د اګست په ۱۴ مه نېټه امیر ته یو لیک واستاوه او ویې ویل چې د بریتانیې نماینده (سرنوییل چمبرلین) به سمدستي د کابل دربار ته ورسي او د کابل او افغانستان د ګاونډیو هېوادونو د بېړنیو مسالو او وروستیو پېښو په اړه به له امیر سره خبرې وکړي.
امیر لا له دغې سترې صدمې نه په کرار شوی نه و، چې د ده ټولې هیلې او د دیارلس کلنو ټولو زحمتونو نتیجه یې خرابوله او حتا د رسمي عزادارۍ موده هم ختمه شوې نه وه، نواب غلام حسین خان د هغه حضور ته راغی او د ځواب غوښتنه یې وکړه، امیر په ځواب کې وویل چې زه لا تر اوسه پورې د خپل زوی د مړینې د غم او درد نه خلاص شوی نه یم تاسې باید زما د غم او مصیبت مراعات وکړئ. زه د پخوا په شان ستاسې دوست یم او کوم بد فکر نلرم، د روس نماینده زما په اجازه راغلی و اوس پخپله سفیر چې (جنرال ستولیتوف) نومېده بېرته خپل هېواد ته تللی دی، او هیات یې چې ژمی تېر شي رخصت به شي، تاسې مه پرېشانه کېږئ، د روس د سفارت راتګ یو عادي کار دی او د دوستۍ د ښکاره کولو په غرض دی او بس. مګر په دغه ډول چې تاسې په زور سره په ما باندې خپل سفیر منئ، زه هغه منلی نشم، پرېږدئ چې یو څه موده تېره شي او دا وضعیت له منځه لاړ شي، زه به پخپله هغه ته اجازه ورکړم چې راشي.
دغه ځواب د سپټمبر په ۱۷ نېټه جنرال چمبرلین ته چې په پېښور کې د حرکت لپاره یوازې ځواب رسیدلو ته منتظر و ورسېد، په دغه ترځ کې د پېښور کمشنر د دوستۍ او نزاکت له مراعات پرته د امیر شیرعلي خان د نوي صدراعظم مستوفي حبیب الله خان وردګ په نامه او هم یې د حاکمانو او د خیبر او کابل د لارې د قلعه دارانو په نامه سخته لهجه لیکونه رالېږل او د انګریزي هیات له راتګ نه یې خبر ورکړ او اشاره یې کړې وه چې که چېرې د ده د هیات په مقابل کې هر ډول مقاومت وشي هغه اقدام به د دوښمنۍ کار وګڼل شي. دغو لیکونو امیر شیرعلي خان واقعاً په قهر کړ او امر یې وکړ چې انګلیسي هیات ته له سرحد نه د را تېرېدو اجازه ورنه کړئ، پداسې حال کې چې د سپټمبر په ۱۸ مه نېټه مستوفي حبیب الله خان د نواب غلام حسین خان سره د خبرو په ترځ کې ویلي و چې امیر د انګلیس نماینده مني، چې سوءتفاهم له منځه لرې شي، پدې شرط چې ستاسې لخوا د هغه د تحمیلولو اقدام ونشي او تر هغه وخت پورې چې د هغه موافقه څرنګه چې معموله ده، حاصله نشي دغه سفیر دې لاړ نشي او که لاړ شي نو منع به شي او هم دغه وزیر د انګلیس استازي ته د هند د جریدو له خپرونو څخه چې لیکلي یې و امیر د روس سفیر ته بلنه ورکړې ده شکایت کړی او په اخره کې یې ویلي و چې زه یقین لرم د امیر او د انګلیس د استازي ترمنځ به چې راشي مستقیمه کتنه ټول سوءتفاهمونه له منځه لرې کړي.

بالاخره انګلیسي پلاوی په نیرنګ او زور کابل ته راغی چې هماغه و پر وړاندې یې د ۱۸۷۹ ز کال د ډسمبر په دویمه ملي پاڅونونو په لسګونو انګریزان په کابل کې ووژل چې په وژل شویو کې د انګریز سفیر کیوناري هم شامل و.
وړاندې تر دې چې د انګلیس افغان دویمه جګړه ونښلي، مستوفي حبیب الله خان ډېره هڅه وکړه چې انګریزانو ته قناعت ورکړي چې په افغانستان برید ونکړي. د هغه ډیپلوماتیکې هڅې د هند د ملي ارشیف د یوه سند له مخې چې د مرکې په ډول دي، د بېلګې په توګه دلته وړاندې کوم. هېره دې نه وي چې دا سند په لومړي ځل ایستل شوی او خپرېږي:
«لسمه ګڼه
علي خېل
د ۱۸۷۹ کال د سپټمبر ۲۳مه نېټه
کابل ته د ګمارل شویو ځواکونو د قومندان ستر جنرال سر فریډریك روبرټس لخوا،
د هند د بهرنیو اړیکو د ادارې مرستیال اې.سي لیال ته،
زما د نن ورځې د ټیلیګرامونو پر دوام، ویاړم چې له تاسې جلالتمآب نایب السلطنت او د کونسل عمومي مشر سره د هغه مجلس په اړه معلومات شریک کوم، چې له مستوفي حبیب الله خان او وزیر شاه محمد خان سره مې پرون کړی دی.
د جنرال سر فریډریك رابرټس او د امیر د استازیو؛ مستوفي حبیب الله خان او وزیر شاه محمد خان ترمنځ په علي خېلو کې د ۱۸۷۹ زکال د سپټمبر په ۲۳ مه نېټه د یوه مجلس یاددښت.
له یو لړ لنډو خبرو وروسته جنرال رابرټس استازیو ته وویل چې د دوی په خوښه یې د دویم مجلس لپاره زمینه برابره کړې ده. هغه له دوی وغوښتل چې اوس نو په ازاده توګه هر هغه څه چې ویل یې غواړي، ووایي.
له هغې وروسته مستوفي خپلې خبرې داسې پیل کړې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

افغانستان او انګلستان ګډې ګټې لري، امير او د هغه چارواکي په کابل کې د وروستيو پېښو له امله په ژوره توګه خواشيني دي. د دې ترڅنګ امير لېوالتيا لري، هر هغه څه وکړي چې د بريتانيې حکومت يې غواړي او په هر ډول چې ممکنه وي د بريتانيې وقار بايد هماغه ډول چې نايب السلطنت يې هيله لري، خوندي وي. خو اعليحضرت دا هم له پامه نشي غورځولی چې ياغيان او په مجموع کې خلك او سرتيري له تعصب څخه د ډک غچ په اړه وېره لري چې هر څه به تر خپل اغېز لاندې راولي. هغه هيله مند دی چې د دغې وېرې له امله د رامنځته کېدونکي ناورين مخنيوی وشي.
مستوفي پدې شېبو کې د جنرال رابرټس هغه مطلب ته اشاره کوي، چې د سپټمبر په ۱۵مه يې ياد کړی و. هغه وويل، خلك د تبليغاتو په کيسه کې ندي او ورپسې يې په لاندې ډول اوږده کړه چې:
يقيناً دا ممکنه ده چې دغسې کوم ترکيب رامنځته نشي. افغانان خودپرسته او په ډلو وېشل شوي دي. خو بيا هم که چېرې دغه ډول کوم څه کېږي، هغه بايد ګرم ونه بلل شي، امير فکر کوي چې تر وروستي توانه په دقيق ډول د بريتانيې حکومت ته دقيق معلومات ورکوي. د يوه ګټور دوست په حيث د هغه مشوره دا ده چې کابل ته د بريتانوي ځواکونو مخکې تګ بايد تر يوې لنډې مودې (پنځو ورځو) وځنډول شي. پدې موده کې به هغه هڅه وکړي چې منظم ځواکونه بې وسلې کړي، نوي ماليات به پورته کړي او د هغو په مرسته به ټولې اندېښنې رفع کړي. د هغه مفکوره د شيرعلي د هغو لښکرو ماتول دي چې تل د يوه خطر په توګه واقع کېږي او د راتلونکي لپاره يواځې ۱۵۰۰۰ سرتيري وساتي (په دغو لښکرو کې يو شمېر وتلي غازيان لکه محمد جان خان او عبدالقادر خان تاجيک لوړپوړي منصبداران و) ژباړن. دا به ډېر ښه وي چې د شمېر په زياتولو کې تر هغې ځنډ رامنځته شي څو چې هغه خپل قدرت ترلاسه کړي. د امير موخه دا نده، چې هغه۵۰۰۰۰ افغان سرتېري، د بريتانوي ځواکونو مقابله کولی شي. د ياغيانو لښکرې نه نظم لري او نه هم مشر. خو د ياغيانو دغه لښکرې له بېلابېلو قومونو جوړې دي او که چېرې بريتانوي ځواکونه هغوی له منځه يوسي، يواځې د مقاومت په پايله کې امکان لري، ټول هېواد به د بريتانيې او امير پر وړاندې ودرېږي. همدا لامل دی چې هغه د يو څه ځنډ سلا ورکوي او د مجازاتو مسووليت پر غاړه اخلي. نايب السلطنت به وروسته وګوري چې هغه هېڅ ترحم نه کوي. هغه به داسې يو مثال رامنځته کړي چې د لمر په شان به ټولې نړۍ ته روښانه وي. امير د بريتانيې حکومت په ملتيا ډېر داسې کارونه کړي چې اوس په کابل کې د کافر په نامه پېژندل کېږي.
سربيره پر دې ټول هغه څه چې وويل شول، که چېرې ياغيان يو موټی مقاومت هم وکړي، ټول کارونه به سم پر مخ ولاړ شي. خو امير وېره لري چې ښايي داسې ونشي. ښايي هغوی تر ډېره بريده هلې ځلې وکړي چې ټول ولس پاڅون ته وهڅوي. پدې صورت کې به پر ګډو تاسيساتو ګڼ بريدونه وشي او اکمالات به هم ستونزمن وي. دوی به تر ډېره له غزني او د لوګر له يو شمېر سيمو څخه راټول شي. که چېرې قبيلې او قومونه پاڅون وکړي، د دوی مخنيوی به ستونزمن وي. د ژمي راتلو ته يواځې يوه مياشت پاتې ده. يقيناً دا ستونزمنه ده چې د راتلونکو پېښو په اړه څه وويل شي. هېڅ مخالفت به نه وي موجود او امير چمتو دی چې د بريتانوي حکومت په خوښه هر کار وکړي. خو هغه پدې نظر دی چې دا د هغه مسووليت دی چې په اوسني نامساعد وضعيت کې د مخکې تګ په اړه خپل نظر ورکړي.
جنرال رابرټس د دغو څرګندونو په ترڅ کې د نايب السلطنت په استازيتوب د امير له دغو دوستانه او نېکو مشورو مننه کوي. هغه وويل مساله ډېره مهمه ده، دقت بايد ورته وشي او د امير له استازيو يې پوښتنه وکړه چې نور کوم مهم ټکي د ويلو لپاره لري.
له دې وروسته مستوفي په لاندې ډول خپلې خبرې پيل کړې:
امير د ځواکونو د لېږد د ځنډولو مشوره د يوه نېك ملګري په توګه ورکوي او دا ټول هغه څه دي چې په توان يې پوره دي. خو که چېرې بريتانوي لښکرې کابل ته ورننوځي، يوه بله مساله هم شته چې غواړم يادونه يې وکړم. بايد بريتانوي ځواکونه په دومره قدرت کابل ته ورننوځي چې د ياغيانو ټولې هيلې له خاورو سره خاورې کړي او په ټول هېواد کې يې پر ګونډو کړي. تاسې پياوړي کېدو انتظار نشئ ايستلی. که تاسې راځئ نو بايد بيا په پوره قوت سره راشئ. په داسې يوه قوت چې ټول مخالفين مات کړئ. ښايي مخالفين موجود نه وي، خو تاسې نشئ کولی پر دې اټکل بسنه وکړئ.
جنرال رابرټس ځواب ورکړ چې د امير مشوره له اهميته ډکه ده او بايد جدي پاملرنه ورته وشي. کله چې هغه د لومړي ځل لپاره په کابل کې د ماتې په اړه خبر ورکړ او د مرستې غوښتنه يې وکړه، نايب السطنت ډېره لېوالتيا درلوده چې له کوم ځنډ پرته بريتانوي ځواکونه ورواستوي. ما ته يې امر وکړ چې په کورمه کې د دغو ځواکونو مشري پر غاړه واخلم. په عين حال کې کندهاري ځواکونو ته د يوه ټيليګرام له لارې امر وشو چې بېرته کندهار ته ستانه شي، چې له دې وروسته يې بايد کلات ته مخه کړې وای. دغه راز لارښوونه وشوه چې يو درېيم ځواك په پېښور کې را ټول کړی شي او دا هر څه له امير سره د مرستې لپاره په ممکنه لږ ځنډ سره پلان شوي وو. نايب السلطنت په لومړيو کې داسې فکر کاوه چې د امير د وېرې په مقابل کې دا هر څه داسې پلان شوي چې ټول افغانستان به يې د يوې شېبې لپاره هم د مقابلې توان ونلري. په کندهار کې مېشت ځواکونه په ډېر لږ وخت کې چمتو شوي او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

له کندهاره د کابل پر لور راروان دي. يادښت (پدې شېبو کې د امير استازي حيران شول). د پېښور ځواکونه هم په چټکۍ سره منسجم او راخوځېدلي، امير بايد په بشپړه توګه ډاډه واوسي چې بريتانوي ځواکونه په پوره قوت سره عمل کوي. زه به د امير په مشوره په ژوره توګه فکر وکړم ځکه چې مهمه ده. خو اعليحضرت بايد په ياد ولري چې کابل ته په ځنډ رسيدل يواځې انګليسي افسران او هغه ۵۰ يا ۶۰ سرتيري چې په خاينانه توګه و وژل شول نه زيانمنوي. د بريتانيې وقار تر پوښتنې لاندې دی او تر هغې چې د دغو افسرانو مړي خاورو ته نه وي سپارل شوي او په کابل کې يې څوك پروا ونلري، زه فکر نه کوم چې د انګليسانو اطمينان دې ترلاسه شي. هغوی به د بريتانوي ځواکونو د پرمختګ او د دې پېښې عاملينو ته د وړ سزا غوښتنه وکړي. اوس هم د امير مشوره چې زه باور لرم يوه دوستانه مشوره ده، بايد په خورا دقت سره په پام کې ونيول شي او زه به پر دې له يو څه فکر وروسته تاسي ته ځواب درکړم.

مستوفي پدې ترڅ کې وويل:

هغه څه چې د بريتانوي ځواکونو د پياوړتيا په اړه وويل شول موږ پرې په دقيق ډول پوی شو. له شك پرته چې دا دقيق دي او ټول افغانستان يې پر وړاندې نشي دريدلی. خو هغه څه چې امير موږ ته ويلي او زموږ له ياده وتلي وو، دا دي چې په ترکستان کې د وسلو ۲۴ جوبې ډيپوګاني دي چې ۶ يې د سپرلو او اسونو او ۵۶ يې د ټوپکونو دي. دا لومړني ځواکونه دي چې په مزارشريف کې يې خپله روحيه نده بايللې او داخلي دوښمنان يې پر شا کړي دي هلته عبدالرحمن او د اعظم خان زامن خپل وار ته ګوري. هرات بيا هم شکمن حالت لري. کله چې دلته سرتېري د کابل د پېښې په اړه څه واوري نور نو ويلو ته څه نه پاتې کېږي. که چېرې عبدالرحمن پر دغو خلکو ځان ومني، هرات او ترکستان به کرار کرار د افغانستان له قلمرو څخه جلا شي. دا بل هغه دليل دی چې د بريټانوي ځواکونو د مخکې تګ د ځنډولو لپاره وړاندې کېږي او په عين وخت کې به امير د دې فرصت هم ولري چې په هرات او ترکستان کې خپلې لښکرې وغځوي.

جنرال رابرټس ځواب ورکړ:

دغه ټول دلايل به په پوره غور سره وڅېړل شي. د نايب السلطنت لومړنی امر دا و چې د امير د مرستې په موخه مخکې تګ وشي، خو زه باور لرم چې د اعليحضرت مشوره دوستانه ده او په هر صورت کې به له بريتانوي حکومت سره همکاري کوي. نو له همدې امله به کوم هغه ټول موارد په پام کې نيسو چې اعليحضرت يې تاسي د ويلو لپاره را استولي ياست.

مستوفي وويل: نايب السلطنت دې په دې ډاډه وي چې امير به هر کار د دوی په خوښه کوي.

وزير: کله چې امير د جنرال رابرټس په اړه هغه ليك ترلاسه کړ چې د نايب السلطنت لخوا واك ورکړ شوی، ډېر خوښ شو ځکه هغه د جنرال رابرټس د شخصيت په اړه چې مهربانه زړه لري، پوهېده.

جنرال رابرټس ځواب ورکړ چې د امير پر وړانديزونو به فکر وکړي او بيا به يې ځواب ورکړي. په عين حال کې هغه له استازيو غوښتنه وکړه چې تر يو-دوه ورځو دې د دې لپاره چې د امير مشورې او وړانديزونه وڅېړل شي، په کمپ کې پاتې شي ځکه د افغانستان او بريتانيې د حکومتونو لپاره خورا اهميت لري.

مجلس تر دې وروسته پای ته ورسېد.

(Sd.) H.M. Durand

کابل ته د ګمارل شويو ځواکونو د قومندان جنرال رابرټس سياسي سکرتر»

«يوولسمه ګڼه

د ۱۸۷۹ کال د سپټمبر ۲۵مه نېټه، علي خېل

کابل ته د ګمارل شويو ځواکونو د قومندان ستر جنرال سر فريډريك روبرټس لخوا

د هند د بهرنيو اړيکو ادارې مرستيال اې.سي ليال ته،

زما د ۱۸۷۹ کال د سپټمبر د۲۳مې نېټې له ليك سره ترلی دغه ليك په ډېر وياړ سره د جلالتماب نايب السلطنت او د کونسل مشر د خبرتيا لپاره او يوه کاپي يې په انګليسي او فارسي ژبو د اعليحضرت امير د هغو ليکونو په ځواب کې چې د سپټمبر په شلمه او نولسمه يې رالېږلي وو، در استول کېږي.

د علي خېلو کمپ، د ۱۸۷۹ کال د سپټمبر ۲۵مه نېټه

کابل ته د اعزام شويو ځواکونو د قومندان ستر جنرال سر فريډريك روبرټس لخوا

د کابل اعليحضرت امير ته،

له يو لړ لنډو خبرو وروسته – ما ستاسي اعليحضرت د سپټمبر د نولسمي او شلمي نېټې ليکونه (چې د شوال له لومړۍ او دويمي نېټې سره سمون لري) ستاسي د دوو اعتبار وړ استازيو مستوفي حبيب الله خان او وزير شاه محمد لخوا ترلاسه کړل.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پاز والې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زه له تاسي اعليحضرت منندوی یم چي خپل دوه باشخصیته او مشهور استازي مستوفي او وزیر مو را استولي دي.
دوی ماته ستاسي اعلیحضرت د توقعاتو په اړه معلومات راکړل او هغه څه چي دوی راته وویل زه ښه سم پرې پوه شوم.
له بده مرغه چي اوس ډېر ناوخته شوی دی او ژر به ژمی راورسېږي، خو مخکي له دې چي هوا بیخي سړه شي د بریتانوي ځواکونو یو لښکر کابل ته پر لار دی.
د هند نایب السلطنت ستاسي د درېیمي او څلورمي ګڼي لیکونو له امله چي پکې مو د مشورو ترڅنګ د مرستي او همکارۍ غوښتنه کړې، ډېر اندېښمن دی او د ژر اقدام غوښتنه لري. جلالتماب ژوره لېوالتیا لري چي باید لښکرې په یوه وار کابل ته حرکت وکړي ترڅو ستاسي شخصي امنیت او ستاسي په پلازمینه کي سوله تامین شي. له بده مرغه چي د ترانسپورټ او تجهیزاتو غوښتنه د دې لامل شوې چي څو اوونۍ تاخیر رامنځته شي. که له یوې خوا له دې امله چي ستاسي شخصي امنیت ته اوس کوم مستقیم خطر ندی متوجه، جلالتماب نایب السلطنت خوښي څرګندوي او باور لري چي کابل ته د لښکرو تر در رسېدو پورې تاسي اعلیحضرت د دې وړتیا لرئ، چي د خپلي پاچاهۍ د تسلط له امله د خپل پایتخت چارې کنټرول کړئ.
زه خوښ یم چي تاسي اعلیحضرت ته خبر درکوم چي پرون یو پام وړ لښکر د ماهرو افسرانو په تشکیل کي له کندهاره د کابل پر لور حرکت درکړی او د جنرال برایټ تر قومندې لاندې یو لوی لښکر له پېښوره جلال اباد او بیا د ګندمك له لارې کابل ته د تګ تابیا لري.
هیله من یم چي زما خپل یوځ به له کوم ځنډ پرته حرکت وکړي. لکه څرنګه چي تاسي اعلیحضرت پوهېږئ، په شترګردن کي یو شمیر مسوولینو ته دنده سپارل شوې چي د څو ورځو په اوږدو کي وسلي او تجهیزات برابر او په کورمه کي یې له هغو وسلو سره یو ځای کړي چي زه یې له ځانه سره لېږدوم او د نورو ځواکونو د اړتیا د پېښو مساله مي هم له پامه نده غورځولې. د هند جلالتماب نایب السلطنت ستاسي اعلیحضرت د ساتني او خوندیتوب په موخه سخته توجه کړې چي د کورمي، خیبر او کندهار دغه درې واړه لښکرې باید خورا پیاوړې وي او ستاسي د مخالفینو د هر ډول ممکنه تعارض پر وړاندې مقابله وکړی شي. پدې کي شك نشته چي دوی په کافي اندازه پیاوړې دي.
زه پوهېږم چي په کلات او غزني کي د هغو لښکرو پر وړاندې چي له کندهاره یې حرکت کړی، کوم ځنډ نشته او داسي کوم دلیل نه لیدل کېږي چي کابل ته د ژر رسېدو مخه یې ډپ شي.
د خیبر قبایلو د سولي په اړه د هغو هلوځلو درناوی کوي چي ستاسي اعلیحضرت او د بریتانوي حکومت لخوا په تېر مي میاشت کي پیل شوې دي او دوی به د خیبر لارې په اوږدو کي د هر ممکنه ګواښ په مخنیوي کي هر راز مرسته کوي. دوی له همدې امله حاضر دي چي خپل ټول نقلیه حیوانات د بریتانوي قومندان په واك کي ورکړي، چي په اډانه کي به یې لښکرې په وقفه یې ډول کابل ته در ورسېږي.
ستاسي اعلیحضرت په مهربانۍ ما د هغو اندېښنو پر خلاف چي درلودې مي، کمي ستونزې تجربه کړې دي او اوس به زه د کندهار او خیبر دلښکرو له در رسېدو سره په یوه وخت له تاسي سره یم.
زه له تاسي اعلیحضرت سره د لیدو لپاره په ډېرې خوښۍ سره انتظار کاږم او باور لرم چي تاسي اعلیحضرت به د ترانسپورټ او وسایلو په برابرولو کي خپله مرسته نه سپموئ.
ما ستاسي اعلیحضرت هغه وړاندیزونه په دقت سره مطالعه کړل چي تاسي به پخپله یاغیانو او نورو ډلو ته چي پر بریتانوي کاروان یې ظالمانه بریدونه وکړل د هغوی د اعمالو سزا ورکوئ او د کال پدې فصل کي به یې د ځوابیه بریدونو په ترڅ کي ځپئ.
زه د نایب السلطنت او د هند د حکومت په استازیتوب ستاسي د دوستانه احساساتو قدرداني کوم. د فوق العاده حالاتو په پام کي نیولو سره دغه ډول وړاندیزونه یقیناً چي د منلو وړ دي، خو له هغه څه نه چي پدې وروستیو کي رامنځته شول، زه باور لرم تر هغې چي بریتانوي لښکرې کابل ته نه وي رسېدلي او د وروستیو بریدونو عاملان هغه ډول چي ښایي په بد ډول مجازات نشي، بریتانوی ولس به اطمینان پیدا نکړی شي.
ما ستاسي اعلیحضرت د لیکونو اصلي پاڼي نایب السلطنت ته استولي او د دغه لیك یوه کاپي به هم نن جلالتماب ته ور ورسېږي. په عین حال کي مي مستوفي حبیب الله خان او وزیر شاه محمدخان ته اجازه ورکړې چي حرکت وکړي او بېرته ستاسي خوا ته درشي.
فکر کوم چي دا به تاسي دواړو لورو او ماته مهمه او له تاسي اعلیحضرت سره د راتلونکو ارتباطاتو ټینګولو کي مرستندوی وي که یو له یادو شویو کسانو څخه یې له ماسره پاتې شي. که دوی مخالف نه وي نو ښه به وي چي یو یې له ماسره تر هغې چي ستاسي اعلیحضرت ځواب راځي، په کمپ کي پاتې شي. »
«څوارلسمه ګڼه
د ۱۸۷۹ د سپټمبر ۲۶مه نېټه، علي خېل
کابل ته د ګمارل شویو ځواکونو د قومندان ستر جنرال سر فرېډریك روبرټس لخوا،
د هند د بهرنیو اړیکو اداري مرستیال اې.سي لیال ته،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

زما د پروني ټيليګرام پر دوام، ويارم چي له تاسي جلالتمآب نايب السلطنت او د کونسل عمومي مشر سره له مستوفي حبيب الله خان او وزير شاه محمد خان سره د دربېم مجلس معلومات شريکوم. هغوی نن سهار وختي له کمپ څخه حرکت وکړ.

د جنرال سر فريډريك رابرټس او د امير د استازيو مستوفي حبيب الله خان او وزير شاه محمد خان ترمنځ په علي خېلو کي د ۱۸۷۹ کال د سپټمبر په ۲۵مه نېټه د يوه مجلس يادداښت.

له يو لړ لنډو خبرو وروسته جنرال رابرټس له مستوفي وغوښتل چي اعليحضرت ته د ليك رسولو مسووليت پر غاړه واخلي. پدې ترڅ کي جنرال رابرټس ويلي، له اعليحضرت امير څخه د دغو دوو قدرمنو چارواکو د لېږلو له امله چي اوس په کمپ کي دي، مننه کوي او ډاډ ورکوي چي پر هغو ټولو مواردو په بشپړه توګه پوه شوی چي اعليحضرت يي دغو استازيو ته د انتقال مسووليت ورکړی و. خو دا د هغه لپاره سخته وه چي د امير ټول وړانديزونه ومني. د امير له لومړی غوښتني سره سم د نايب السلطنت لخوا کابل ته دري لښکري د رسېدو لپاره چمتو شوي دي. د پېښور او کورمي لښکري اوس تقريباً چمتو دي او د کندهار ځواکونو لا د مخه حرکت کړی دی. اوس د دغو لښکرو ځنډول د جنرال رابرټس په واك کي ندي. نايب السلطنت نه غواړي چي د بريتانوي ځواکونو د نه رسېدو له امله امير ته زيان ورسېږي او دغه راز د بريتانوي ولس د ډاډ لپاره بايد په کابل کي د وژل شويو افسرانو مړي راټول شي. نو له همدي امله بايد ځواکونه مخکي ولاړ شي. په عين حال کي جنرال رابرټس باور لري چي امير به له ځانه دفاع وکړی شي او په خپل پايتخت کي به امنيت تامين کړي. مستوفي په ځواب کي وويل چي امير دی او د ده همکار د دې لپاره رالېږلي دي چي جنرال رابرټس ته ډاډ ورکړي چي اعليحضرت بريتانويانو ته وفادار دی. هغه څه چي جنرال رابرټس ته غوره ښکاري يقيناً چي هماغه به کېږي.

جنرال رابرټس له مستوفي څخه وغوښتل چي امير ته ډاډ ورکړي، چي دی به د اعليحضرت مشوري په جدي ډول په پام کي نيسي. هغه وضعيت چي امير ورسره مخ دی، له ليك څخه يي ښکاري. جنرال رابرټس په ليك کي د ورکړل شوي مشوري ترڅنګ د اعليحضرت لخوا د دوو استازيو له لېږلو مننه وکړه او غوښتنه يي وکړه چي يو له هغوی څخه دې په کمپ کي پاتي شي. خو که چېرې دغه دواړه غواړي چي اوس ستانه شي جنرال رابرټس به يي د لېږلو لپاره هرډول سهولت رامنځته کړي. خو بيا هم جنرال رابرټس هيله لري چي يو له دوی يا کوم بل د اعتبار وړ چارواکی ژر بېرته کمپ ته واستول شي. مستوفي ځواب ورکړ چي دی د حکومت د چارو ترڅنګ د ماليي د وزارت مسووليت لري او همکار يي د بهرنيو چارو وزارت مسووليت پر غاړه لري. د دې ترڅنګ ځيني نور درانه مسووليتونه هم د دوی پر غاړه دي چي ښايي ددواړو نه موجوديت امير له يو لړ جدي ستونزو سره مخ کړي.

جنرال رابرټس وويل پدې صورت کي نو دی نشي کولی د دوی په منځ کي د يوه د پاتېدو غوښتنه ولري خو د دې لپاره چي د کمپ او امير ترمنځ وړ ارتباطات موجود وي، ښه به وي چي د اعتبار وړ يو چارواکی ژر کمپ ته را واستول شي.

مستوفي وويل له کابله چي راغلی د امير يواځي يو ليك يي ترلاسه کړی او د ترکستان او هرات له چارو هېڅ خبر نلري. که چېرې جنرال رابرټس کابل ته راغی او هرڅه سم و نو امير به په شخصي ډول ورسره وګوري يا به خپل زوی رالولېږي.»

د پورته لاسوندونو له مخي د مستوفي حبيب الله خان منطق او سياسي پوخوالی داسي را نغاړلی شو:

- مستوفي هڅه کړې چي انګليسي لوري ته دا پيغام ورکړي چي د ډسمبر د دويمي د پېښي په تراو دوی بايد غبرګون ونښيي، هر څه چي کوي هغه به افغان حکومت کوي نه انګريزان.

- نوموړي هڅه کړې انګريزانو ته قناعت ورکړي چي پر کابل بريد وځنډوي. ښايي له ځنډ څخه د نوموړي موخه د غازيانو را ټولول، له روسانو سره د خبرو اترو او مرستو فرصت او جګړې ته ښه تابيا نيول و.

- هغه انګريز لوری ګواښلی چي که له ياغيانو سره ونښلي هغوی له بېلابېلو قومونو څخه جوړ ځواک دی، پدې صورت کي به ټول افغانستان د انګريزانو پرضد را پاڅېږي.

- - هغوی يي وېرولي چي ياغيان به يو موټی بريد ونکړي، بلکي هر ځای به چريکي بريدونه وکړي، په تاسيساتو او اکمالاتو به هر چېرته تاړاک جوړ کړي.

- هغوی ته يي دا پيغام ورکړی چي ستاسي اوسني ځواکونه کفايت نه کوي، که راځئ نو ښه په قوت راشئ. ښکاره خبر وه چي انګريزانو په کم وخت کي ځواکونه نشوی زياتولی، نو ځکه افغان لوري ته کافي وخت او فرصت په لاس ورتلو، چي ځان منسجم او له شمالي ګاونډ څخه مرستي جلب کړی شي.

- انګريزان يي ګواښلي چي په ترکستان کي زيات ځواکونه او مهمات شته، که بريد وکړئ درته سخته به تمامه شي.

- په ټوله کي د مجلس له روحيي څخه د نوموړي انګليس ضد نيت او نظام ته د هغه وفاداري له ورايه څرګندېږي.

د مستوفي له ډېر ټينګار سره سره انګريزانو خپله پرېکړه کړې وه چي په افغانستان به بريد کوي.

تر دې وروسته د افغان انګريز دويمه جګړه پيل شوه چي افغان لوری يي د څو تنو غازيانو لخوا رهبري کېده چي په هغوی کي جنرال محمد جان خان وردګ، ملا مشک عالم، غلام حيدر خان څرخي او محمد عثمان خان صافی شامل



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

وو. د دې تحرکاتو تر شا څو تنه نور سیاسي مخور هم وو، چې د غازیانو او خلکو په انسجام کې یې کلیدي رول درلود او د انګریزانو په وړاندې یې تحرکات کول. د دغو محرکینو مشر لومړی وزیر مستوفي حبیب الله خان وردګ او عبدالقادر خان تاجیک وو چې انګریزانو بیا ونیول او هند ته یې تبعید کړل.

**اخځونه:**

**۱- ربښتیا سید قاسم، افغانستان په نولسمه پیړۍ کې، دانش خپرندویه ټولنه، دویم چاپ ۱۳۸۹، ۴۲۴مخ-، ۴۸۲ مخ- ۴۹۴ - ۴۹۵مخونه-۵۴۳ مخ.**
**2- National Archive of India, N.A.I F.D - Sep. 1879-No.189**
**۳- شمس النهار، ۱۸۷۴ زیږدیز د اکتوبر ۱۳، ۱۲۹۱ ګڼه.**

---

٠ محمد نبي ساحل د ملک محمد خان زوی د وردګو ولایت د سیداباد ولسوالۍ په حسن خېلو کلي کی د ۱۳۶۲ لمریز کال د سلواغې په ۱۷ مه نېټه زیږېدلی دی.
نوموړي لومړنۍ، منځنۍ او ثانوي زده کړې د تکیې په عالي لیسه (کویټ الخیر او اوس خالد بن ولید تکیه) کې او لوړې زده کړې د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي کې بشپړې کړې .
د محصلۍ په دوره کې د (لپه) په نوم د درې میاشتنۍ مجلې مسوول مدیر و. په ۲۰۰۶- ۲۰۰۷ کی له اریانا ټلویزیون سره د خبریال په توګه یو نیم کال دنده ترسره کړه. په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې د امنیت شورا د دفتر د ستراتیژیکو اړیکو د مرکز د ولایتي اړیکو مسوول، وروسته د یو نیم کال له پاره د ملي ټلویزیون د اطلاعاتو لوی مدیر، له هغې وروسته د ګوربت خصوصي راډیو ټلویزیون اجراییوي مشر او د ۲۰۱۲ ز کال له ډسمبر څخه د ۲۰۱۴ کال تر ډسمبر پورې د جمهوري ریاست د دفتر د ریاست د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د رسنیو سره د همغږۍ او اړیکو امر و.
ساحل یو شمېر اثار ژباړلي چې ځینې یې چاپ او ځینې یې لا چاپ نه دي. د مفاهمې په نوم یو اثر چاپ ته چمتو دی. نوموړی د ۲۰۱۴ زکال له ډسمبر وروسته په نیوزلنډ کې اوسي او د ګرځندوی په برخه کې زده کړې کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ